سرلوخ مرادزی ۲۰۱۲ / ۰۳ / ۱۷

# بیا هم افغاني غمیزه!

که څه هم له ډېر مهال وړاندی د افغانانو او په تیره بیا د ډیورندکربنی پر دواړه غاړو د پښتنو په مال او سر لو ګډ دی او په دی لو کی د ماشومانو، ښځو، بوډاګانو، ساده وګړو، استادانو، ډاکټرانو، انجینرانو او قومي مشرانو سرونه ریبل کیږي، خو روستیو کی دی لو او د سرونو غوبل نور هم زور اخیستی او د هری ورځی په تیریدو سره د وطن د لونو او زامنو له مړو او جسدو څخه ستری او دلی جوړیږي او هیواد ټول په هدیره بدلیږی!

د مالونو او سرونو په دی لو کی، ډیر کورني او بهرني لاملونه او فکټورونه سره یوځای شوي او په لویلاس هڅه هم کیږي چی ساده وګړي د غمیزی په اړه له پوهي او خبرتیا څخه لري وساتل شي.

که یوازی د څو تیرو ورځو کرونولوژي راوسپړو د چلوټی ، غمیزی او ناورین له بیخ اوتل څخه خبریدلای او ډیرو هغه پوښتنو ته ځواب میندلای شو چی پوهه او خبرتیا یي راته ګرانه ښکاري .

که باګرام کی د قران پاک د پاڼو د سیځلو او یا د کندهار د زانګاوات د کلي د ولسي وګړو ټولوژنه چی له هرخوا د غندنی او کرکی وړ ده ، راواخلو لامل یي که هره استخباراتي پروژه وي ، قرباني یی په دواړو پیښو کی پښتانه دي. په هغو لاریونو کی چی د باګرام د پیښی په تړاو وشول او هلته د ۳۰ تنو په شاوخوا کی ووژل شول ، ډیری یي پښتانه وو . د زانګاوات په ټولوژنه کی خو ټول پښتانه وژل شوي .

که خبره له بل پلوه راوسپړو « د افغانستان په جنوب کی د مارچ په ۱۵ مه بیا د طالبانو په بمي حمله کی دیارلس تنه ملکیان ووژل شول . کندهار کی پولیس وایي چی د مارچ په ۱۵ مه د طالبانو له لوري د سړک په غاړه د ایښوول شوي بم په چاودنه کی نهه ماشومان او څلور ښځی ووژل شوی.

پولیس وایي چی دا پیښه د روزګان ولایت دهرات ولسوالۍ کی هغه مهال وشوه چی د سپرلیو موټر د طالبانو له لوري پر ښخ شوي ماین وخوت.

د روزګان د والي ویندوی پیښه تایید کړه، ویی ویل چی د دیارلس تنو د وژل کیدو ترڅنګ دوه تنه نور ژوبل شوي دي.

پرون هم هلمند ته د امریکا د دفاع وزیر له سفر سره په یو وخت د دغه ولایت په مارجی ولسوالۍ کی د یوه ماین په چاودنه کی اته تنه ملکیان وژل شوي وو.

د هلمند ولایت چاراوکو دا برید د طالبانو له لوري ګڼلی او وایی : «دغه چاودنه د چهارشنبی په ورځ د یوی بجی په شاوخواکی د مارجی ولسوالی د ریګي څلورلاری په سیمه کی د وسلوالوترهګرو لخوا د یوه ښخ شوي ماین له امله په یوه ټونس موټررامنځ ته شوه چی په پایله کی یی اته تنه ولسي وګړي په شهادت رسیدلي دي.»

بلخوا د پژواک د خبر له مخی د مارچ په ۱۵ مه، د ننګرهار د پوهني ریاست په وینا د چپرهار ولسوالۍ د شولانی لوړ ښوونځي ( لیسه ) ، ناپیژندو کسانو په بمونو والوځاوه .

په دی چاودنه کی د ښوونځي د اداری په ګډون ۸ کوټي، ۲۸ خیمی، کتابونه او د ښوونځي نور سامانونه ټول سوځول شوي . ویل کیږی چی دی ښوونځي کی ۲۶۴۰ تنه نجونی او هلکان په زده کړه بوخت وو .

دا په روان کال کی څلورم ښوونځی دی چی دی ولسوالۍ کی سوځول کیږي .

که د لری پښتونخوا خبرونه راواخلو ، هلته هم په پښتنو لو ګډ دی . د باجوړ په ماندو سیمه کی د مارچ په ۱۵ مه ، د چاودنی له امله ۵ کسان وژل شوي او ۲ ټپیان دي . چاودنه د یو قومي مشر له حجری بهر شویده .

د افغانستان د علماوو شورا په اعلامیه کی چی څو ورځی وړاندی خپره شوه، ښځو او نجونو ته سپارښتنه شوی چی د زده کړو په مرکزونو، دفترونو او نورو ټولنیزو ځایونو کی له نارینه وو سره ناسته ولاړه ونه کړي او د سفر پر مهال شرعي محرم ولري. دا پریکړه د علماوو شورا په استازیتوب او مشرۍ مولوي قیام الدین کشاف چی پښتون ګڼل کیږي ، په خوله بیانیږي او د ولسمشر کرزي لخوا د تایید او پلیتوب وړ بلل کیږي .

دلته کشاف د یوه پښتون په جامه کی، د ټولنی د نیمایي نفوس ښځو ، د بشر حقوقو او مدني او دیموکراتیکو ارزښتونو سره په مخالفت، حقیقت کی ټول پښتانه د ۲۱ می پیړۍ له غوښتنو سره د مقابلی او جګړی په سنګر کی درولي ځلوي .

دلته مولانا د پښتون په دریځ کی په داسی اندیښنو، دریځونو او پریکړوسره په کور دننه او بهر نه یوازی د ځان ، بلکی د ټولو پښتنو په وړاندی د نورو خلکو د کرکی او نفرت اور ته د خپلی اوږدی ږیری په خورولو سره پکی وهي .

نور خلک حق لري، وانګیري د پښتو مولانا چی داسی توره بوره ده او د تمدن ، پرمختګ او رڼایي دوښمن دی ، ساده پښتانه خو باید د ښځو د حقوقو، تمدن او رڼا پسی ټوپک راواخلي او وجنګیږي اوښایي روانه جګړه هم له داسی لاملونو څخه وبولي.

که د طالبانو دریځ راواخلو، طالبان دواړو پیښو یانی هم د باګرام او هم د زانګاوات پیښوته وحشت وایی چی دی کی څه شک نشته او د هغو پر ضد اعلامیه خپروي خو بیا د خپل قوم  په وړاندی له هغوی څخه بدتر وحشت چی پورته څو


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تازه بیلګی یي وړاندی شوی ، سرته رسوي . اسلامي ګوند هم ورته دریځ لري او څونه چی پښتانه ښاړ، ښډل او سړیتوب سره ناپخلا ځلولی شي ، صرفه نه کوي، روستی اعلامیه یي دا خبری ښه په ډاګه کوي.
د پیښو ټول بهیر ښئ چی له نورو مخکی پښتانه، توندلارو مذهبي اندیښنو او فعالیتونو ته هڅول کیږي او کله چی دوی په دی ګانه سمبال کړل شي بیا نو جواز پیداکیږي چی د دوی د سپکولو او وهلو کار په ښه تیره توره پیل شي .
دلته څو پوښتنی باید مخی ته کښیږدو او د ځواب لپاره یي په لټه کی شو :
ـ د پښتنو په ویده توب ، تیاره والی ، د تمدن له کاروان سره په دوښمنئ اوهمدارنګه د سیمی او نړئ سره په اړخ نه لګولو او ټکر کی، کوم لاملونه او فکټورونه لوی لاس لري ؟
ـ کوم هیوادونه، ځواکونه او بنسټونه د داسی لاملونو او فکټورونو ملاتړ کوي او یایي ترشا ولاړ دي؟
ـ بل کوم څوک توندلارو مذهبي اندیښنو ته پښتانه ورټیل وهي او په دی کار سره کومی موخی غواړي ترلاسه کړي او یا خپله پښتانه په دی مرادرډنډ کی خوشحاله دي او غواړي تلپاتی چاپیریال یي همدا ډنډ وي ؟
ـ ایا په اسلامي پراخه نړئ کی د اسلام ساتلو ټیکداران یوازی پښتانه دي ؟
ـ د غمیزی مونډیز او عمده لامل خپله پښتنو کی دي، که په ګاونډ او نړئ کی دا لامل ولټوو ؟
د هر چا به خپل خپل دلایل وي ، خو زما په اند د غمیزي مونډیز لامل خپله پښتنو کی پروت دی . ترڅو چی خپله پښتانه ونه غواړي ځان کی تغییر راولي ، بل هیڅوک دوی ته تغییر نه شي ورکولای. د سیمي او نړئ فکټورونه دا تغییر ورو او یا ګړندی کولای شي خو د تغییر زیرمه او سرچینه خپله پښتنو کی پرته ده .
همدی ورځو کی می د یوه دوست لیکنه چی په تاند بریښناپاڼه کی خپره شوی وه، ولوستله. نوموړي دوست خپلی لیکنی ته داسی سرلیک ټاکلی و« افغانیزم ، د پنجوایي ماشومان، د یوی نوی جګړی پیلوونکی »
تر هغه ځایه چی د نوموړي دوست لیکنه د پنجوایی د غمیزی پوری اړه لري او یا هغه برخه چی پښتانه پکی زده کړی او پوهی ته هڅول کیږي له تایید سربیره په ستاینه هم ارزي، خو له دی خونړئ پیښی څخه د بلی جګړی د پیل لپاره تبلیغ او یا په نا مستقیمه توګه په طالبانو او اسلامي ګوند ګورګری ښنډل چی د پنجوایي د ماشومانو په غچ راپاڅي او نوی لا دا چی اوسنئ جګړه هم بسنده ونه ګڼل شي او نوی جګړی ته متی رابډ وهل شي، د پښتون د یوه روشنفکر پتوګه خطرناکه طرحه ګڼل کیږي . زه دی دوست ته وایم ، د پنجوایی د پیښی په ملاتړ بویه طالبان راپاڅیدل او په هیلمند او روزګان کی یي غچ واخیست، خو دا غچ دوی له چا څخه واخیست ؟ خپل ورونه یي ونه وژل ، خپل کلی، کور یي وران نکړ ؟ او یا د باګرام د پیښی په تړاو ۳۰ تنه څوک مړه شول ؟ هغه پښتانه روشنفکران چی د جګړی د لا تودوالی سندری وایی او پخپل اند طالبان ، اسلامي ګوند ، سیاف او مولانا قیام الدین کشاف پشان کسان د پښتنو د ګټو ساتندوی بولی، له مذهبي توندلارو څخه زیات تیاره او تر ټولو لومړی د پښتنو پښی همدوی په تبرګي وهي.
پاکستان ، ایران او یا نور به موږ ته مذهبي توندلاری روزي او افغانستان ته به یي د ورانئ ، ویجاړئ او ټولوژنی لپاره رااستوي، خو افغانان او ترټولو ړومبی پښتانه خپله ولی داسی دندی ته زړه ښه کړي ؟
روشنفکران ولی د مذهبي توندلارو په خدمت کی شي، دوی ولی طالبان او د منځنیو پیړیو نوری خبیثه ارواوی د افغانستان د ژغورنګ پریښتی وګڼي او د دوی د توری په تمه کښیني !
تر ټولو مخکی د توندلارو له واکمنئ څخه د افغانستان ژغورنګ پکار دی .
ستونزه او غمیزه هغه مهال لا پیچلی کیږي چی خپلی دندی او مکلفیتونه پر پردیو واچوو. د هیواد روشنفکران هغه وخت روشنفکران نه، بلکی د ځمکی د مخ مفسدین ګڼل کیږي، خپله دنده چی هغه د ولس ویښتوب دی خوشی کړي او د تیارو، تورو ځواکونو سره د ولس په زوندئ کولو کی شریک شي !
ترڅو چی خپل ولس ویښ نه کړو او ولس ته په صفا ټکو کی ریښتیا ونه وایو، ترڅو چی ولس د توندلارو د غوبل څخه د ولس په پوهاوي او په دولت کی د واکمني جهادي ـ مافیا په رسواکولو کی لاس په کار نه شو، که ټوله نړئ ملامته هم شي، له روانی غمیزی څخه خلاصون نه شو میندلای !

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ